**بسم الله الرحمن الرحيم**

# اې د اسلامي خاورو حکامو، ایا نه پوهېږئ!؟

**(ژباړه)**

**خبر:**

د ترکیې د پارلمان رییس، نعمان کورتولموش وویل: «کومه ټولنه چې د خپلې ټولوژنې عامل ته - چې په نړیوالو محکمو کې محاکمه کېږي- چک چک کوي، پخپله دغه ټولنه هم په دغې ټولوژنه کې شریکه ده. تاسو ته د ننگ ځای دی! »
(سرچینه: فتیح مډیا، ۲۰۲۴م کال د جولای ۲۵مه)

**تبصره:**

په داسې حال کې چې د ۲۰۲۳ م کال د اکتوبر له ۷مې را وروسته پر غزه د یهودي رژیم بریدونه دوام لري او په پایله کې یې لسگونه زره ملکي وگړي وژل شوي دي. د اسراییلو لومړی وزیر بنیامین نتانیاهو د امریکا د کانگرېس د مشرانو په بلنه د کانگرېس گډې غونډې ته حاضر شو. نتانیاهو په یاده غونډه کې شاوخوا یو ساعت خبرې وکړې او د هرې جملې په پای کې به یې د کانگرېس غړو تود هرکلی کاوه. ټولې نړۍ ته معلومه ده چې د غزې د بې گناه وگړو د وژلو اصلي عامل امریکا ده، خو د نتانیاهو پر وړاندې د امریکا د کانگرېس دریځ دغه حقیقت تر پخوا ډېر ثابت کړ.
د ترکیې د پارلمان رییس «تعمان کورتولموش» چې د امریکا د دریځ په اړه خپل نظر بیان کړ، البته د پام وړ نظر دی. خو پوښتنه دا ده چې ایا د نوموړي دغه نظر د ترکیې د دولت له اقداماتو سره چې د همدغه پارلمان په واسطه رهبري کېږي، توافق لري که نه؟ ایا د ترکیې دولت د تېرو شپږو میاشتو په اوږدو کې په غزه کې د یهودي رژیم د نسل وژنو له پیل راهیسې ډېری داسې توکي لکه اوسپنه، فولاد او خوراکي توکي د یهودو رژیم ته نه دي رسولي؟ ولې نعمان کورتولموش په هغه وخت کې د ترکیې د دولت دغو اقداماتو ته هېڅ غبرگون ونه ښود؟ د ترکیې دولت ولې د یهودي رژیم لخوا د دغې نسل وژنې د درولو لپاره ځواب ورنه کړ؟ ولې یې هغه وخت دا خبره ونه کړه چې پوځونه باید د غزې د مظلومو او بې وسه خلکو د ژغورلو لپاره حرکت وکړي؟ ایا د نوموړي څرگندونې هغه تشه بیانیه نه ده، چې موخه یې یوازې د ترکیې د مسلمان ولس غلي کول دي؛ لکه د خپل ولسمشر رجب طیب اردوغان د څرگندونو په څېر؟
ټوله نړۍ او ان ماشومان پوهېږي چې امریکا په غزه کې د یهودي رژیم لخوا د نسل وژنې ملاتړ کوي! ایا په دغو شرایطو کې لازمه نه وه چې د نعمان کورتولموش دریځ د امریکا پر ځای د اسلامي خاورو حکامو ته متوجه وای، په ځانگړي ډول ترکیې ته چې د غزې د نسل وژنې په اړه یې چوپتیا غوره کړې ده!؟
پر همدغه اساس، وایو: که نعمان کورتولموش د امریکا په اړه په خپلو څرگندونو کې په رښتیا جدي وي، باید لاندې موارد د رښتیني غبرگون په توگه څرگند کړي:
۱. مسلمان حکام دې په ټوله نړۍ کې په ځانگړي توگه په ترکیه کې له امریکا سره د اړیکو پرې کېدو ته راوبولي.

۲. د اسلامي خاورو ټولو حکامو ته دې وواییي، چې د غزې ازادي یوازې د پوځونو په بسیج سره شونې ده.
۳. هغو ټولو مسلمانانو ته دې وواییي چې د غزې د نسل وژنې دردېدو ته لېوالتیا لري، زړونه یې ورباندې خوږېږي او شپه او ورځ د دغې موخې لپاره لاریونونه کوي، چې د دولتونو ماڼیو او د پوځونو اډو ته لاړشئ او پر خپلو دولتونو فشار راوړئ.
۴. په پایله کې او تر ټولو مهم اقدام دا دی، چې د نبوت پر منهج دې د راشده خلافت دولت تاسیس ته دې دعوت وکړي، ځکه چې د غزې د مظلومو مسلمانانو او ټولو اشغال شویو اسلامي خاورو د ازادۍ لپاره یوازنۍ حللاره ده.
له دې پرته به د نعمان کورتولموش څرګندونې نه د الله سبحانه وتعالی او نه هم د مسلمانانو پر وړاندې کوم ارزښت ولري؛ بلکې که داسې ونه کړي، نو د الله سبحانه وتعالی له قهر سره به مخ شي، ځکه الله سبحانه وتعالی داسې فرمایي:

﴿ **يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِمَ تَقُولُونَ مَا لَا تَفْعَلُونَ۝ كَبُرَ مَقْتًا عِندَ اللَّهِ أَن تَقُولُوا مَا لَا تَفْعَلُونَ**﴾ [صف: ۲ او ۳]

**ژباړه:** *«اې هغو کسانو چې ایمان مو راوړی! ولې داسې خبره کوئ چې عمل نه پرې کوئ؟ الله سبحانه ډېر په قهر کېږي چې خبره وکړئ، خو عمل نه پرې کوئ!»*

لکه د یوه شاعر د شعر دغه مفهوم:
«له داسې کړنې نهي مه کوه چې خپله یې کوې؛ دا تاته لوی شرم او ننګ دی.»
ټولو مسلمانو حکامو ته په خطاب کې! تاسو وینئ چې د امریکا کانګرېس قاتل نتانیاهو ته چک چکې وهي او هغه ته د یو اتل په سترګه ګوري؛ اې مسلمانو حکامو، ایا نه پوهېږئ!؟

**لیکوال: رمضان ابو فرقان**
**۱۴۴٦هـ.ق د محرم ۲۱مه**
**۲۰۲۴م کال د جولای ۲۷مه**
**ژباړه: بهیر «ویاړ»**